لایق جان خوستی
۲۰۱٦/۰٦/۳۰

# د پوهاند عبدالحی حبیبي دوفات دوه دیرشم تلین په یاد

لمړی برخه



پوهاند پوهاند عبدالحی

ع. ح. حبیبي د ملا عبدالحق آخندزاده زوي، د مولوي عبدالرحیم آخندزاده لمسئ او د علامه مولوي حبیب الله کړوسئ ؤ، چې په محقق کندهاري مشهور ؤ، پوهاند حبیبي د ۱۲۸۹هـ ل کال د ثور په میاشت کښې د کندهار ښار د بامیزو په کوڅه کښې نړۍ ته سترګې غړولي او په خټه کاکړ ؤ.

پوهاند عبدالحی حبیبي لومړني زده کړي د کندهار په ابتدائیه ښوونځي کښې تر پنځم ټولګي کړې، او همدا رنګه په ۱۳۰۶ هـ ل کال کښې په همغه ابتدائي ښوونځي کښې ښوونکي وټاکل شو، او په ۱۳۰۷ هـ ل کال کښې په کندهار کښې د "طلوع افغان" اخبار مرستیال وټاکل شو، اروابناد حبیبي په "طلوع افغان" کښې لس کاله کار وکړ، تر دی چې په ۱۳۱۹ هـ ل کال کښې کابل ته وراوغوښتل شو او د پښتو ټولني مشر وټاکل شو، او همدا رنګه په هغه وخت کې د مطبوعاتو مستقل ریاست د مرستیال په توګه هم کار کاوه، په ۱۳۲۰ هـ ل کال کښې د پوهني وزارت د سلاکار په توګه وګمارل شو، او په کال ۱۳۲۳ هـ ل کال کښې د کابل په پوهنتون کښې د ادبیاتو پوهنځي جوړه کړه، او د دي پوهنځي د مشر په توګه وټاکل شو، په ۱۳۲۵ هـ ل کال کښې یوځل بیا کندهار ته ولاړ او د کندهار د پوهني ریاست چارې په لاس کښې واخیستی، یو کال وروسته په ۱۳۲٦ هـ ل کال کښې په چمن کې د افغاني سوداګرو استازی وټاکل


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

شو، چې دا ټاکنه د پوهاند حبيبي او دوستانو لپاره يې د تيرو وظايفو په مقابل کښې ټيټه وه چې د پوهاند حبيبي د فکري او علمي سويې سره برابره نه وه، له همدې کبله د افغانستان د پارلمان په اوومه تر ټولو جنجالي دوره کښې د کندهار د خلکو استازي په توګه منتخب شو، چې د پارلمان په دې دوره کښې پوهاند حبيبي د نورو وکيلانو سره په ګډه د شاهي دربار وزير استجواب کړ او د دې وزارت بوديجه يې وځيړله، چې له همدې امله د شاهي کورني د مشرانو او مؤثرو شخصيتونو سره په ټکر کې شو، او په نتيجه کې د هېواد پرېښودو ته مجبور شو.
که چيرته د افغانستان معاصر ادب، ژبپوهني، تاريخ او لرغون پوهني کتابونو ته وليدل شي نو داسي آثار به نه وي چې د پوهاند حبيبي علمي پانګې څخه دې په کې ګټه نه وي اخيستل شوي، بلکه د پوهاند حبيبي ليکونو او کتابونو څخه د نړۍ په کچه او په خاصه توګه د آسيا په لوي وچه کښې د منل شوي علمي مرجع په توګه ګټه اخيستل کيږي.
پوهاند حبيبي په ځواني کښې د مشروطيت غورځنګ سره علاقه لرله، ځکه حبيبي ته سياسي فعاليت او مبارزه کورني ميراث ورپاتي و، مولوي عبدالرءوف چې د حبيبي کاکا دی د شيرعلی خان په وخت کښې جلا وطنه شو، چې وروسته د امير حبييب الله خان سراج الملت و الدين په وخت کښې په ۱۹۰۶ ميلادی کال کښې د سراج الاخبار لومړۍ ګڼه چاپ کړه، وروسته د مولوي عبدالرءوف زوي مولوي عبدالواسع د لومړي مشروطيت غورځنګ وتلی غړی و، چې د امير حبيب الله خان له خوا بندي شو او د غازی امان الله خان په وخت کې د حکومتي سيستم لپاره د اسلامي شريعت سره برابری نظام نامي جوړی کړی، او په ۱۳۰۸ هـ ل کال کښې د امير حبيب الله کلکاني له خوا په توپ کښې ولوځول شو.
پوهاند حبيبي چې مبارزه او عدالت غوښتنه په ميراث ورپاتې وه، د (ويښ زلميانو) غورځنګ په جوړولو کښې مهم رول لوبولی، چې په ۱۳۲۵ کال کښې د سردار هاشم خان د استعفا څخه وروسته چې حبيبي په کندهار کښې د معارف مدير و، د کندهار د خلکو د هغه مبارزي ملاتړ هم وکړ چې د ښاروالی په ټاکنو کښې درغلي شوی وه چې د کندهار خلک پدې وتوانيدل ترڅو نوی ښاروال وټاکي، چې د دې پيښې څخه وروسته پوهاند حبيبي د سياست له ميدان څخه د لری کولو هڅه وشوه چې د عبد المجيد خان زابلی په مرسته په چمن کې د افغان سوداګرو د وکيل په توګه وټاکل شو.
پوهاند حبيبي کله چې په ۱۳۲۷ هـ ل کال کښې په ملي شورا کښې د کندهار د خلکو منتخب وکيل شو او د ولسي جرګې په اوومه دوره کښې د اروابناد حبيبي په نوبت د پارلماني ډيموکراسي غوښتونکې ډله هم جوړه کړه، چې د حکومت د بي عدالتيو او فساد مخ نيوی، د ويجاړ هېواد د رغونې او سوکالي لپاره زيار ايستل، په هېواد کښې د خلکو وينښتيا او د ځوانانو سالمي روزني ته پاملرنه، او په هېواد کښې د رسنيو او بيان آزاديو غوښتني لپاره يې مبارزه پيل کړه، چې د پوهاند حبيبي ترڅنګ په آزادی مينو لکه اروابناد مير غلام محمد غبار، دکتور محمودي، سيد محمد دهقان، نظرمحمد، مولوي خال محمد خسته، او نور کسان ورسره مله ول، چې د ډيموکراسی دغه بهير ډېر ژر د سلطنتي کورني د ويری او تشويش سبب وګرځيدو، چې په مقابل کښې د شاهي دربار څخه ځيني وکيلان د پيسو او مقام په ورکولو سره د حبيبي او د ده ملګرو د مبارزی مخنيوي پر ضد وکارول شول، آن چې پوهاند حبيبي پر مرګ وګواښل شو.
اروابناد محمد علم بڅرکي د ويښ ځلميانو په نامه خپل اثر کي د پوهاند حبيبي د وکالت او هجرت په هکله داسي ليکي: په دغه ترڅ کښې چې حکومت په ډيموکراسی ځان پيژني او د حکومت د غړو خطا ايستلو په موخه ورته ډيموکراټيکه دوره وايي، پدی وخت کښې ويښو ځلميانو چې کوم کار وکړ هغه په اولسي جرګه کښې د کندهار څخه

د پوهاند حبيبي کامیابیدل وو، کله چې اولسي جرګي خپل کارونه پیل کړل حکومت ته ورمعلومه شوه چې حکومتي ګټي د ملي ګټو سره توپیر لري، چې د حکومت غوښتنی ملي شخصیتونه نه تائیده وی، نو له همدی کبله په اولسي جرګه کي د ملي شخصیتونو او حکومت ترمنځ اختلافات پیل شول، چې پدی لړ کښي پوهاند حبيبي په مرګ وګواښل شو، ځکه چې د حکومت هری وړ او ناوړه خبری ته یي سر نه ټیټه وه، نو د ملي آرزوګانو سره سم یي د کابل سرداري شورا پرېښوده او په پاکستان کښي سیاسي پناه واخیسته.

وروسته په ۱۳۴۶ هـ ل کال کښي د شهید محمد هاشم میوندوال تر مشری لاندی د مترقي ډیموکراټ ګوند چې د هېواد د هرګوټ څخه د ترقي غوښتونکو ځوانانو په ګډون جوړ شو، او د ويښو ځلمیانو یو شمیر مشرانو لکه پوهاند حبيبي، استاد بینوا، اکادمیسن پوهاند رشاد، استاد خواحوړی، ښاغلی فیض محمد انګار، پوهاند شاکر خان، عبدالهادی خان ، مدیر غلام جیلاني خان، ښاغلی محمد علم بځرکی، وکیل نور محمد پوپل، عبدالصمد ویسا، ښاغلی فتح محمد خټګر اونورو سره په مترقي ډیموکرات ګوند کي خپلو سیاسي فعلیتونو ته دوام ورکړ، چې په ۱۳۵۰ هـ ل کال کښي د ځیني اختلافاتو له امله د ويښ ځلمیانو د مشرتابه ډله د ښاغلي بځرکي، دستګیر پوپل او میوندي په استثنا نور ټول د مترقي ډیموکرات ګوند څخه ووتل.

علامه حبيبي په پښتو، دري، فارسي، عربي، انګریزي او اردو ژبو باندي ښه پوهیده او لیکني یې هم پری کولی، لوي استاد د پښتو ژبي لپاره ډیر لوي خدمتونه کړي چې د پښتو شعر زر کلني او د دولس سوه کلني مستند قدامت ئي په اثبات رسولي دي، چې اروابښاد نومیالي استاد بینوا په خپل اثر «اوسني لیکوال» په لومړي ټوک کي داسي لیکي: د پښتو ژبي بنسټ که څه هم د علمي اسنادو له مخي څو زره کاله لرغوني دي خو د (پټي خزاني) د پیدا کیدو تر وخته د پښتو د شعر مستند قدامت زرو کالو ته نه رسیده نو ځنګه چې دا تذکره د ښاغلي حبيبي په زیار پیدا شوې، د شرحی او ترجمي سره چاپ شوه، د پښتو ادب د دې قدامت دثبوت افتخار هم په اوسنیو لیکوالانو کي د لومړي ځل د پاره د ده په برخه شوي دي.

د یادونی وړ ده چې په قاهره کښي د افغانستان اسلامي جمهوریت سفارت د ۲۰۱۵ م کال د جنوري په میاشت کي د پوهاند حبيبي هغه عربي اثر چې (نظرة عابرة إلى لغة البشتو) نومیږي یوځل بیا چاپ کړ چې دا اثر په لومړي ځل په قاهره کي د افغان سفارت له خوا په ۱۹۶۵ م کال کي چاپ شوي و، چې په هغه وخت کښي په قاهره کښي د افغانستان سفارت د کلتوري او رسنیو چارو د دفتر مدیر اروابښاد "استاد عبدالروف بینوا" و، او دی کتاب ته یي په عربي ژبه معلوماتي سریزه هم لیکلی، (نظرة عابرة إلى لغة البشتو) په کتاب کښي پوهاند حبيبي پښتو ژبه پداسی ډول عربي نړۍ ته وروپیژندلی چې د پښتو الف با حروفو څخه واخله بیا د پښتو تر ادبیاتو، شعر، د پښتو ژبي تاریخ، او د وتلو شاعرانو تر پیژندګلوی پوری په ډېره ښه توګه د پښتو ژبی معرفي کړی ده، چې په دی کتاب کښي د پوهاند حبيبي په عربي ژبه برلاسي او پر عربي ژبه د لیکنی مهارت د کتاب په لیدو سره درته څرګندیږي.

پیاوړي لیکوال او څیړونکي سر محقق زلمي هیواد مل (استاد حبيبي د معاصر فرهنګي بهیر سر لاري) تر سر لیک لاندي خپله مقاله کي د پوهاند حبيبي د دري ژبي لپاره د هلو ځلو په برخه کي لیکي: له پښتو چې ورتیر شو پوهاند حبيبي په دري ژبه هم ځیني داسي کارونه وکړل، چې د افغانستان د دري ژبو په فرهنګي حلقو کښي یي بل ساري نه لیدل کیږي، او ابتکاري اړخونه ئي ثابت دي، په دري ژبه کښي د ده د تحقیق په بیلو بیلو ساحو کښي قلم چلولي دي چې البته په هغو ساحو کښي نورو افغان دري ژبو عالمانو اوفرهنګیانو هم تجربي کړي وي اما د دري ژبي د ځینو عمده متونو په تصحیح او تحقیق کښي د لوي استاد دا کارونه په افغانستان کښي بي ساري دي.

پوهاند حبيبي په نوښت او پياوړي ګډون په افغانستان کې د علومو اکاډمي بنسټ کښېښودل شو او د يوې لوړې څېړنيزې علمي ټولنې په حيث تر ننه پورې کار کوي.
لوی استاد د خپل عمر په اوږدو کې شاعري هم کړې ده که څه هم ئې شعر کم ويلي دئ خو په معيار پوره او په زړه پورې شعرونه ئې زموږ د معاصر ادب تلپاتې بيلګې دي.

**د لمړی برخی پای**

**ادامه لری**